چهارصفحه

# شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۲۶۸) سال نزدهم شمارهٔ (۱۷۶) چهارشنبه (۳۰) عقرب ۱۳۷۵هـ ، ش (۱۰) رجب المرجب ۱۴۱۷ هـ ،ق (۲۰) نومبر ۱۹۹۶م


# کنفرانس سازمان ملل بدون ارائه طرح مشخص برای حل قضیه افغانستان پایان یافت

علت پیشروی وبرتری طالبان درافغانستان اعاده نظم وصلح در آنکشور است

نماینده پاکستان

گروه طالبان قواعد واصول اساسی اسلام رادر مورد حقوق زنان درافغانستان پامال کرده است

نماینده ایران

بخاطر ایجاد اعتدال درموقف طالبان باید تماس ها باگروه طالبان ادامه یابد

نماینده امریکا

نیویارک – ۲۹ عقرب : کنفرانس بین المللي كـه بخاطر جستجوي راه حل قضیه افغانستان دیروز درنیویارك مقرسازمان ملل متحد براي یکروز دایرگردیده بود بدون ارائه طرح مشخصي پایان یافته است .

طبق گزارش منابع خبري این کنفرانس كه بااشتراك (۱۹) كشور وسازمان هاي ذي نفوذ درقضیه افغانستان مهم كنفرانس اسلامي به ابتكار بطروس غالي سرمنشي ملل متحد دایرگردیده بود گرچه درظاهركدام دست آوردي خاصي نداشته امااز نظردیپلوماتیك بخاطر اشتراك طرف تلقي گردیده است ، گرچه بعضي ازاشتراك كننده گان دراین كنفرانس درگذشته هابعضي از طرح وابتكارات منطقوي وبین المللي راتحریم كـرده بودند ولي دراین كنفرانس نظرات شان را توضیح كردند .

درادامـه گـزارش آمده است كه

بقیه درستون «۴» صفحه «۴»

## چین ازانتخاب مجدد بطروس غالی حمایت کرد

پیکنگ – ۲۹ عقرب : چین حمایت رسمي خودرااز انتخاب مجدد بطروس غالي بحیث دبیركل سازمان ملل متحد اعلام كرد ودرجناح مخالف ایالات متحده قرارگرفت .

بقیه درستون «۵» صفحه «۴»

دطالبانو وياند وكيل احمد :

## دښځوتعلیم لپاره شرایط مساعد ندي

طالبانو هيڅوك دژبې اوسيمه ايز تعصب په بنياد ندي نيولي

دلړم ۲۹ مه : موثق پدي بشپړاوورلرو چي دطالبانو اسلامي تحریك په تولو امورو كي له انصاف نه كاراخلي .

دغــه تكي دطالبانو دولسي وياند ملاوكيل احمد دبي بي سي راديو دخبريال سره دمركي په ترځ څرګندكړ .

وكيل احمد وويل دطالبانو تحريك هيڅوك دسيمه ايز يازبني تعصب په بنيادندي

پاتی «۴» مخ «۶» ستون

## ازاطفال منحیث نظامیان شامل درجنگ وجاسوس استفاده می شود

در کشورهای برما ، لایبریا و سریلانکا به اطفال قبل از جنگ شراب وسایر مواد مخدره داده می شود

دریوگندا پیرواطفال مجبور به آشامیدن خون دشمنان شان میگردند

جینوا – ۲۹ عقرب : ازصدهاهزارطفل دراکثر نقاط جهان منحیث نظامیان درجبهات جنگ استفاده میگردد .

به اساس یك گزارش تحقیقاتي سازمان ملل متحد ویك سازمان مدافع حقوق اطفال سویدن در۲۶ كشور جهان ازاطفال بین سن هاي ( ۷ – ۱۵) سال منحیث نظامیان شامل درجنگ جاسوس وغیره كارگرفته مي شود. طبق یك گزارش هفته نامه «گاردین » چاپ لندن تاحال این تعداد اطفال در۳۳ جنگ شركت عملي داشته اند و دركشورهاي برما، لایبریا وسریلانكا این اطفال راقبل از اعزام به جبهات جنگ شراب وسایرمواد مخدر

بقیه درستون «۳» صفحه «۴»

## نامعلومو وسلوالو دليكوال مجلی په دفترحمله وكړه

پيښور – دلړم ۲۹ مه : ورمه ورځ دپيښور ښاريه كابلي چوك كي نامعلومو وسلوالو كسانو دليكوال مجلي په دفترحمله وكړه .

دبي بي سي راديو دخبرله مخي حمله كونكي تراوسه ندي پيژندل شوي خودمجلي مسئول مدير نورالبشر نويد ويلي چي ماحمله كونكي په ستركوليدل

پاتی «۴» مخ «۳» ستون

# انجنیر هلال رئیس سیاسی حزب اسلامی درگفتگوباشهادت

كدام تماس ومذاكره رسمي میان حزب اسلامي وطالبان صورت نگرفته است .

دریں بن بست اخیرجنگ هاي شمال كابل وجنگ هاي بادغیس زمزمه هاي درمحافل خبري پخش شده بودكه گویا طالبان براي مذاكره روي یك طرح صلح با مخالفین تمایل نشان داده ودرهمین راستابوده كه از جناب قاضي صاحب حسین احمد امیرجماعت اسلامي پاكستان دعوت بعمل آورده اند تابه كابل وقندهار سفرنماید و زمینه سازچنین فعالیتي باشد .

خبرنگارشهادت براي روشن شدن بهتر موضوع باانجنیرقطب الدین «هلال» رئیس سیاسي حزب اسلامي درتماس شد. انجنیر «هلال» گفت : من باقاضي صاحب حسین احمد دیدارداشتم به اساس بیان قاضي صاحب ملاغوث سرپرست وزارت خارجه طالبان چنین دعوتي رابعمل آورده اند ولي قاضي فرمودند معلوم نیست كه این

بقیه درستون «۷» صفحه «۴»

## الهی لاربوونې

ال م

اوكه دهغه څه په هكله په شك كي ياست چي په خپل بنده مونازل كري نودهغه په شان خوبوه سوره راوړي او( ددي كارلپاره ) له الله نه پرته خپل ( ټول ) ( مرستي ته ) راوبلي كه ريښتوني ياست . خوكه ومونشوكړي اوهيڅ كله ئي نشي كولي . نو له هغه اوورنه ووېريږي چي دسوند موادئي خلك دي اوتيږي كوم چي دكافرانولپاره تياركري شوي .

اوهغوكسانوته چي ايمان ئي راوړي اوصالحات (صالح عملونه ) ئي كړي زيري وركړه ، پدي چي دوي لره هغه جنتونه دي چي ويالي ئري لاندي بهيږي ، چي كله دهغوي نه دميوي كوم رزق ( روزي ) وركړي شي وائي : دا هماغه دي چي مخكي مو روزي كړي شوي وو وريه كړي شي يوه بل ته ورته . او دوي لره به په هغه كي جوړي دي پاكيزه اوړوي به دوي په هغه كي تل پاتي .

دمولوی تره خیل ترمشری لاندی غونډه دیوه پریکړه لیك په ترځ کی :

## ملګری ملتونه دی دپښتو له مخکی دافغانی ډلو ترمینځ اوربند نافذ کړی

په جګړه کی ښکیلی ډلی دی په هیواد کی دبهرنیو لاس وهنو مخه ونیسی

پيښور – دلړم ۲۹ مه : پرون په پيښور كي مولوي سيدآقا تره خيل ترمشري لاندي غونډه وشوه .

دريوټ لـه مخي په غونډه كي چي دملي اسلامي پاڅون ملي ګډي جبهي، دكابل ولايتي شورا اودخوګياڼيو( ۵ ) بيلابيلوقومي شوراګانوګډون كري ؤ دافغانستان درواني ستونزي دحل په باب پكي خبري وشوي .

دغونډي برخوالو دغونډي په پاي كي يوپريكره ليك صادركراوله ملګروملتونو څخه ئي وغوښتل چي بايد ملګري ملتونه

پاتی «۵» مخ «۱» ستون

## چهارمین اجلاس مجمع عمومی ایکو درایران برگزار میگردد

دربن اجلاس مسایل تامین تسهیلات ترانزیتی وتغیرتصرفات گمرکی وسرمایه گزاری موردبحث قرار خواهند گرفت

تهران – ۲۹ عقرب : چهارمین اجلاس مجمع عمومي كمیته اجلاس ایكوبااشتراك ده كشور عضو بتاریخ هاي چهارم وپنجم ماه قوس درایران برگزارمیگردد .

طبق گزارش منابع خبري ایران غلام حسین شافعي كـه مسئولیت دفتر ایكو رابعهده دارد اظهارداشته است : دراین اجلاس مسایل فراهم آوردن تسهیلات ترانزیت دربین كـشورهـاي عضـو ،

بقیه درستون «۲» صفحه «۴»

## په هرات کی دبادغیس دمهاجرینو لپاره دوه نوی کمپونه پرانیستل شول

دکابل په شمال اوشمال غرب کی جګړی دوام لری

دبادغیس ولایت په سلګونو نوی مهاجرین هرات ته رسیدلی

كابل – دلړم ۲۹ مه : دكابل په شمال اوشمال غرب كي دښكيلوخواووترمنځ جګړي دوام لري .

نړيوالو خبري آژانسونوريوټ وركړي چي پرون هم دكابل په شمال دشكردري په ولسوالي كي دطالبانو اودافغانستان ددفاع دشورا دځواكونوترمنځ جګړي رواني وي .

دوارسيدلي ريوټ له مخي داخلووزحي وشوي چي دبادغيس په ولايت كي هم جګړي پيل شوي او

پاتی «۴» مخ «۵» ستون

## هندوستان پروگرام تولید موشك را ادامه میدهد

دهلي – ۲۹ عقرب : ملاثم سنگ یادیو وزیردفاع هند گفته است كه هـنـد پروگرام تولیدمیزایل را دنبال میكند و به هیچ گونه فشارخارجي تن نخواهد داد .

طبق گزارش مطبوعات پاكستان وي دریك كنفرانس خبري دردهلي جدید گفت : هند برنامه تولید موشك هاي اگني

بقیه درستون «۶» صفحه «۴»

## فاروق " لغاری " دمرتضی بوټو په وژلو کی دبینظیر بوټو تورونه ردکړی

اسلام آباد – دلړم ۲۹ مه : دپاكستان جمهور رئيـس فـاروق احمدخان لغاري دميرمرتضي بوټويه وژلوكي دپاكستان دلـبـري كړي شوي صدراعظمي بينظيربوټو له خوا لګول شوي تورونه رد كړل اوڅرګنده ئي كړه چي دپاكستان نـوي موقـت حكـومت

پاتی «۴» مخ «۵» ستون

اهالی شهرکی در ۲۱۵ کیلومتری شمال غرب شهرگراتیمالا اجساد سوخته چهار نفری را نظاره می کنند که درجریان حمله یك فرد ناشناس بریك مرتر بس بعداز لت وکوب شدید آتش زده شده اند .

## دافغانستان په کورنیو چارو کی دی بهرنی لاسوهنه بنده شی

هند د افغانستان دستونزی سوله ایز حل غواړی

ګوجرال

نوي ډيلي – دلړم ۲۹ مه : هند دافغانستان دستونزي له حل سره خپل بشپړچمتوالي څرګند كړي .

نړيوالوخبري آژانسونوريوټ وركړي چي پرون دهند دبهرنيوچارو وزيرګوجرال په نوي ډيلي كي خبريالانوته وويل چي هند په افغانستان كي دبهرني لاسوهني په كلكه مخالفت كوي اوغواړي چي دافغانستان روانه ستونزه په سوله ايزوول پاي ومومي .

ګوجرال وويل چي بايد ټول ګاونډي هيوادونه پـه افغانستان كي لاس وهنه بنده كړي او پريږدي چي افغانان خپله ستونزيه خپله هواره كړي .

ګوجرال همدارازڅرګنده كړه : ګاونډي هيوادونه بايد په جګړه كي ښكيلي خواوي په خپلومنځونوكي خبروته وهڅوي ترڅوپه افغانستان كي نوي جګړي بندي شي .

## سازمان عفو بین الملل باردیگر طالبان را به نقض حقوق بشر متهم کرد

ژنیوا – ۲۹ عقرب : سازمان عفو بین المللي گروه طالبان رامتهم بهنقض حقوق بشر درافغانستان كرده وگفته است كه این گروه مرحله جدیدي ازرنجش و آزار و اذیت مردم رابه ارمغان آورده .

طبق گزارش منابع خبري ایران دراین گزارش كه روز دوشنبه انتشاریافته است گفته شده كه كشتارها، دستگیري هاي خود سرانه ، اعمال محدودیت برزنان ، ضرب وشتم درفتاري بازنان وكودكان ودستگیري غـیـر نظامـیـان، اعدام هاسنگسار كردن ها وقطع اعضاي بدن ازجمله اتهاماتي است كه بـه این گروه منسوب شده است .

دافغانی ماشومانو دحقوقو داعادی په سیمینارکی :

## په افغانی جنګ کېلو ماشومانو ثاته کارونه کیږی

افغانی ماشومان دکورنی روزنی او تعلیم نه محروم شوی

پشاور – ۲۹ عقرب : له افغانستان سره دتعاون مركز چي په پيښوركي ديوي بهرني موسسي په مالي كومك دماشومانو دحقوقو په باره كي كوم سيمينارجوړكري ؤ، پرون دمهاجرولپاره داداري دغږي السكيس سيستاري په ويناختم شو .

دنړيوالوخبري آژانسونو دريوټ له مخي پدي سيمينارکي چي دكابل ، بلخ اوننګرهار دپوهنتونونو استادانو ، عالمانو ، دملګروملتونو اوخيريه موسسو استازو اوپوهانو ګډون كړي وو په افغانستان كي دماشومانو له حقونو دسرغړونو خبري وشوي او وويل شول چي ماشومان دكورني دروزني اوتعليم نه محروم شويدي .

دريوټ زياتوي چي سيمينار په

پاتی «۴» مخ «۳» ستون

## دادگاه عالی پاکستان ازاستماع دعوای بینظیربوتو خودداری کرد

اسلام آباد – ۲۹ عقرب : دادگاه عالي پاكستان ازاستماع دعواي دایرشده ازجانب خانم بوتو صدراعظم سابق پاكستان درمورد برطرفي حكومت وي خودداري كرد .

طبق گزارش منابع خبري دادگاه عالي پاكستان درخواست خانم بوتو مبني براقامه دعوي علیه رئیس جمهور راقابل اعتراض دانسته ولي ازانتقاد مستقیم علیه اوخودداري كرد .

اعتراز احسن وكيل مدافع بینظیربوتو گفت كـه در ، درخواست خانم بوتو براي اقامه دعوي نـكـات قابل اعتراض وجودنداشت اما مستردكردن درخواست وي ازجانب دادگاه عالي پاكستان نه تنها خودابلكه قانون دانان رانیز متعجب

بقیه درستون «۵» صفحه «۴»

# شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

موسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هیئت تحریر

تلیفون: (۲٦٢٤٨٧)

آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور


## دافغانستان په هکله دملګرو ملتونو مسئولیت

په کابل دطالبانو دغورځنګ دتسلط نه وروسته ګران هیواد افغانستان دیوه نوي بن بست سره مخامخ شوی، طالبانوچې دسولې او امن دراوستلو اوپه هیواد کې دیوه مستحکم اسلامي حکومت دجوړیدو په شعار خپل روان جدوجهد پیل کړی و اوپه ډیروسیمو کې ئې هیوادوالو دزړه له کومې استقبال وکړ اوس دهیوادوالو دارمانونو برعکس په یوه جنګي داسې مشین تبدیل شوي چې دهیواد دټولو ستونزو دحل لاره همدې جنګ لاندې ګوري. طالبانو دسولې دشعاربرعکس دجنګ لارپیل کړې څوهغه مرګونې چې دوی ئې انتظاره ولره تراوسه پوری دجنګ دلارې ترلاسه نه شوکړای بلکه برعکس هیواد دیوه بل او بن بست سره مخامخ شوی او هغه داچې دجنګ لمړۍ کرښه دسختوجګړو اوبرید بل دوړلو ترڅنګ لاهمغسې په خپل ځای ده. دجنګ دلړیو لیکو سره دلږدې سیمو خلکو ډزې په دغه یخنۍ کې دلوږې، لږ اومظلومیت په ډیره بده اولړزونکې وضعیت سره هجرت ته مجبوردي چې تراوسه پوري په زرګونو کورنیو دالله په اسره دجګړې ماروسیمو لاسه خپل کوراوکهول پری ایښی او دخپلو کرچینانو دیه ځنګ کرلو په خاطرئی دنورو په جونګړو کې پناه اخستی.

طالبان د هیواد په پایتخت دتسلط نه وروسته تراوسه پوري نه دي توانیدلي چې هیوادوالوته دخپل راتلونکی پالیسۍ په هکله څه ووایي. بلکه په دې هم نه دي قادرشوي چې په کابل کې دخپل قانونیت دپیداکیدو په خاطر دخپل حکومت جوړیښت نړیوالوته وړاندې کړي. په داسې حال کې چې دنړۍ دهیوادونو څخه دپه رسمیت پیژندلو توقع اوامیدلري اوهمدا اوس ئې ملګروملتونوته خپل نماینده معرفي کړی خوداسې ښکاریږي چې دطالبانو ملګري اوس دطالبانو ترشاهغسې نه دي ولاړ لکه څنګه چې په کابل باندې ئې طالبانو دنظامي یرغل په وخت کې دهغوی ملاتړکاوه. ددې ټولوګډوډیو نتیجه داشوه چې که په هیواد کې پخوا په اصطلاح حکومت هم موجود و، په نړیواله سطحه ئې دهیواد نمایندګي کولای شوه. خوطالبانو په واسطه دکابل دنیولو وروسته دغه نمایندګي هم ددوو دډوو لږونکوطرفونوترمنځ دتسیخ سره مخامخ شوی. او دا دروان د بن بست د پیل الښوسناله اوږد دي چې زموږ هیوادوال ورسره مخ دي.

ددې بن بست پوځرګند مثال دافغانستان په هکله دملګروملتونو اوسني کانفرانس دی چې نن دملګروملتونو په مرکزنیویارک کې په افغانستان کې د(۱۸) ذیدخل هیوادونوترمنځ پیل کیږي خودافغانستان دجهادي تنظیمونو په شمول نه دطالبانونماینده اونه هم دپخواني حکومت کوم نماینده په کې ګډون لري.

دتیرو ۱۵ کالو راپه یخواکه څه هم ملګري ملتونه دافغانستان دبحران دحل په خاطر ځلي ځلي کړی خو دملګروملتونو دغوهلوځلو تراوسه پوری کوم مثبت نتایج نه دي ورکړي، اوهمدا علت یې ممکن دستروځواکونو اوپه ځانګړې توګه دامریکائیانو دطرز فکر په اساس دهغوی ته دقبول ور «سیټ اپ» دجوړیښت ترمنځ دخپلوګوتوټو «ښکلونه» پیداکول وو. خو اوس داسې ښکاري چې دا «ښکلونه» اوس یوځل بیا هم نه شوي وي اوزمینه دقبول ور «سیټ اپ» ته اماده شوي وي. په دې اساس دملګرو ملتونو اوسنۍ غونډه کې دجهادي تنظیمونو اوهم دطالبانو کوم نماینده ګډون نلري بلکه په بحران کې دخپل پټ لاسونه په دغه غونډه کې برخه اخلي ترڅو په هیواد کې داوسني خلا درامنځته کیدونه په استفادې سره دحل یوه لاره دمسائله ځای څخه رامسلطه کړي.

سوال دادی چې دملګروملتونو ددغسې ذیدخلوهیوادونو دټپل شوي فارمول یادحل دلاري څخه به په هیواد کې دامن اوسولې فضا هواره شي؟ ځرګنده ده چې په هیڅ صورت به داممکن نه وي چې په هیواد کې دجهادي تنظیمونو اوراوستیو جګړه ماروپریکیانو دتوافق پرته دحل کومه لاره عملي بڼه پیداکړي.

ملګروملتونوته پکاردي چې دافغانستان دبحران دحل له پاره دیوه ټپل شوي حل په ځای ټول داخلي ذیدخل ګټه ورونه هم په دغسي غونډه کې دګډون له پاره وبولي ترڅو دټولو په توافق دحل داسې یوه لاره پیداکړي چې دهغې په واسطه دجنګ مخنیوی وشي اودسولې اوامن په فضا کې هیوادوال دخپلې ازادې رائي له مخې خپل راتلونکی حکومت وټاکلی شي.

جګړه ماري خوادي داباید درک کړي چې جنګ دحل لارنه ده، او طالبان چې پخوا دسولې کرغږي ګڼل کیدې اوس یومنسي طرف واقع شوي، دبل لوري دطالبانو حیثیت هغه وخت ډیرخراب شو چې دجهادي رهبرانو پرخلاف ئې جهاد اعلان کړ خودجنبش ملي په هکله ئې دملګرتیا لهجه اختیارکړه، دغې خبرې دطالبانو پخواني شعارونه ترشک لاندې راوړل.

دبله اړخه داحمدشاه مسعود دځواکونو سره هم دولس همدردي هغه وخت کمه اوبیا له منځه ولاړه چې هغوي جنرال دوستم دخپل نوي ائتلاف مشر وټاکه.

هم طالبان اوهم دشمال مقاومت باید دادرک کړي چې ولس، که دخپلو مجاهدینو دعاقبت نااندیشانه پالیسیو اودخپلولوڅارانو دظلم او تیري سره مخامخ شوي خوبیاهم مجاهدین دخپل کور خارندان ګڼي خوددپردیو په لاس غیراسلامي ځواکونوته هیڅکله دسیادت اوګبادت اختیارنه شي ورکولای په دي اساس اوس هم موږ نه یواځې، په ټولو جهادي تنظیمونو اوطالبانوباندي دبین الافغاني ډیالوګ او ډیلاسې اوجنګ دسوځونکو خرابیدوختمیدو اوپه هیواد کې دیواسلامي پراخ بنسټه حکومت دجوړیښت له پاره غږکوو بلکه دملګروملتونو څخه هم داغواړو چې زموږ دهیواد دستونزو په حل کې دجهادي تنظیمونو دشوري پرته کوم داسي قدم پورته نکړي چې نتایج ئې نورهم خراب وي، بلکه ملګري ملتونه باید دې ذیدخلوهیوادونو ترڅنګ دذیدخلوداخلي ګټوروتو اویا ټولوجهادي تنظیمونو په مشوره دهیواد دبحران دحل له پاره عاجلي لارې ولټوي.

## طالبان دقدرت په درې لارې کښې

په افغان مسئله کې اسلام، اسلامي نظام، جهاد او واقعي مجاهدینو ته مخلص سیاسي کتونکي ټول پردې خبره یوه خوله دي چې په افغانستان کې څلورتیم کلن خپلمنځي جنګونه په اصل کې داسلامپالوځواکونو دتضعیف او په نتیجه کې یې د سیکولر او چپي قوتونو دمطرح او رامنځته کیدو په خاطروو، اودی، ددې ترڅنګ له دې تاریخي حقیقت نه هم هیڅوك انکارنه شي کولای چې دافغانستان په مسلمان ملت کې دیني علماوو اوروحانیونو ته په خورا درنه سترګه کتل کیږي، اوزموږ دهیواد دملي او قومي شخړو په حل کولو کې علماوو پرخپل وخت اغیزمن رول ادا کړی.

له همدې اصله چې کله زموږ دکورنیو اوجهاد، مجاهد بدناموونکیو جنګونو په دوران کې څه دپاسه دوه کاله وړاندې طالبان دیوه قوت په څیرراڅرګندشول اوپه لنډه موده کې یې بې شمیره فتوحات وکړل، علت یې داوچې طالبان اوعلما، زموږ دمسلمان ولس له احترام اودرناوي نه برخمن وو اوفکرېي کاوه چې دغه قوت کیدای شي دمجاهدینو ترمنځ دقدرت پرسر دکشمکش پای ته رسولواواسلامي نظام دقیام په خاطر راپورته شوی سوچه ملي قیام وي، خو هماغه وخت چې لا طالبان په کندهار کې وو سیاسي کتونکیو په خپلو څرګندونو کې ویل چې طالبان راپورته شوي نه بلکې راپورته کړای شویدي اوداپه افغانستان کې داسلامي جهاد، مجاهد، اسلامي نظام، دملیونو شهیدانو دارمانونو او اسلامي قوتونوپرخلاف اودهمدوی له منځه وروستۍ توطئه ده، او ددې له پاره هڅې روانې دي چې د افغان برمبالي جهاد نه په الهام اخستوسره دنړۍ مستضعفوقوتونوته وښودل شي، چې په اوسني عصرکي دجهاد په نامه راپورته کیدل دمسلمانانو دخپلمنځي اختلاف له امله دهیواد دویجاړتیاپرته بله نتیجه نه لري اونه ددغه مقدس کارپه نتیجه کې اسلامي نظام قایمیدای شي. اودکابل ترولکې دمخه دطالبانو دغورځنګ تبلیغاتي، سیاسي او اقتصادي ملاتړ او تایید او دکابل ترولکې وروسته دهغوی حکومت په رسمیت نه پیژندل اوپرخلاف یې دتبلیغاتو لړۍ داحقیقت ښه راڅرګندکړ چې طالبان ددې له پاره راپورته کړای شوي نه وو چې قدرت په لاس کې واخلي اودخپلې خوښې نظام قایم کړي بلکې دهغوی دراپورته کولو اوتقویه کولو هدف داوچې له یوې خوا دغه روحاني قوت دمجاهدینو په څیر دخپلمنځي جګړو له امله رسواکړي او له بلې خوا تردوی وروسته دافغان مسلمان ملت داهیلې په نهیلۍ بدلې شي چې په افغانستان کې به دمیلیونو شهیدانو له ارمان سره سم اسلامي نظام قایمیږي.

که دحالاتوجریان ته وکتل شي استعمار له طالبانوڅخه رومبی کارخو واخیست اوددویم له پاره یې لږ څه وخت پاتې دی، اوس یوازې ددې انتظاردی، چې په اولس کې یوازې پرامنیت قایمیدو د اکتفاءکولو روحیه قوي اوژوندۍ کړای شي. ځکه دطالبانوترکنترول لاندې سیمو کې یوازې یو څه امنیت قایم دی او نور دښوونې او روزنې، صحي، دبیاودانۍ، اقتصادي، اجتماعي، کلتوري اوتخنیکي چاروته هیڅ ډول پاملرنه نه شته، عامه بیکاري اوبې روزګاري ده.

همدا ډول د کابل ترولکې وروسته تراوسه پوری درې پنځوس ورځې شوې دي چې حتی هغه هیوادونه چې دطالبانو مستقیم او غیر مستقیم ملاتړیې کاوه، دهغوی حکومت په رسمیت نه پیژانده اونه په دغه موده کې دطالبانو قیادت له کندهاره کابل ته راغی.

په نظامي ډګرکې دکابل دنیولو وروسته هم کوم نوی انکشاف دطالبانو په ګټه رامنځته شوی نه دی، لاچې دجګړې لمن یوځل بیا دکابل له شاوخوانه ترکنړونو، ننګرهار، لغمان، کاپیسا او بادغیس پورې وغزیدله اولرې نه ده چې دهیواد په مرکزي ولایاتوکې هم دطالبانو پرخلاف پاڅونې رامنځته شي. ددې ترڅنګ له کوم ورځې نه چې دتهران له کانفرانس وروسته داخبرې مطبوعاتوته راوتلي چې، هند، ایران، ترکیه، روسیه، ازبکستان اودسیمې ځینې نورهیوادونه دطالبانودمخالف ائتلاف ملاتړته تیارښکاري، نو پخپله د طالبانو اودهغوی دملاتړکوونکیو ډیپلوماتیکې هلې ځلې په ټپه دریدلې او دحالاتوجریان دطالبانو برعکس ښکاري.

اوس طالبان دیوه درې لارې پرسر ولاړښکاري اوهغه داچې:

۱- په داسې حال کې چې له یوې خوا طالبان دافغانستان پر یوویشتوولایاتو واکمني لري خو حکومت یې هیڅوک په رسمیت ونه پیژانده او له بلې خوایې پرخلاف مقاومت ورځ په ورځ زیاتیږي اوپراخیږي، په لومړي سرکې به هغوي مجبور وي چې دملت دخوښې اوارادې پرته جګړې ته دوام ورکړي اومقاومت وکړي، ځکه دهغوی دسیاسي ډیالوګ په قاموس کې مخالفینوته له تسلیمیدو پرته دقدرت داشتراك اوایتلاف ټکی نه شته اوپه هیواد کې له ټولو سیاسي اونظامي قوتونونه دلاسونیوورته کولو اووسله پرځمکه اېښودلو غوښتنه کوي، سره له دې چې دهیواد جهادي قیادتونه دافغانستان په خلکو کې اوس هم زیات شمیر خواخوږي اوملاتړکوونکي لري، نوبیا څنګه کیدای شي چې لکه دمولوي صاحب «خالص» اومولوي صاحب محمدنبي «محمدي» په څیر به ټول جهادي مشران اودهغوی پلویان دافغانستان په راتلونکي حکومت اونظام کې له خپل رول نه لاس په سرشي اوهرڅه به دطالبانو په خولې کې واچوي؟

۲- لکه څنګه چې له طالبانو نه داستعمار هیله وه، چې هغوی به جهادي قیادتونه له صحنې نه باسي اوبیا به قدرت د استعمار دخوښې حکومت ته سپاري، لکه چې پخواني پادشاه ظاهرخان دطالبانو له خوا دمشرقي ولایاتو له له نیولو سره سمه افغانستان ته دژرترژره راتګ اعلامیه خپره کړه، ولې تراوسه دظاهرشاه دراتګ څه پته ونه لګیده اوپادشاه پخپله هم په دې وروستیو کې ویلي چې دوکه ورسره شوې ده.

له دې نه داسې ښکاري چې په طالبانوکې دظاهرشاه مخالف قوتونه دې ته تیارنه دي چې دمجاهدینو پرقربانیو دې خاوري واروي اوددیني طالبانو دقیام اوقربانیو په نتیجه کې دې دبې دینه خلکوحکومت ته لاره هواره شي، او په رښتیا سره چې داد طالبانو له پاره یوتاریخي شرم اوبې ننګي ده چې دوی دې پخپله په شرعي حجاب کې پټې مېنځې له محرم پرته په بازارکې نه پریږدي، خوددوی دقربانیو په نتیجه کې دې ظاهرشاه اودهغه غرب مشربه پلویان دمنیژوپ اوماکسیژوپ په بې حیالباسونوملبوسو میرمنو اولونو سره دهیوادواکمنۍ ته راوستل شي.

ولې داخبره یقیني ده چې که طالبان داستعمار او بهرنیو پلویانو دغه غوښتنې ونه منې نودېرژربه دجهادي قیادتونو له برخلیك سره مخامخ کیږي.

۳- طالبان هم ښایي پردې خبره پوهیدلي وي چې استعمار دهغوی ملاتړددې له پاره نه کاوه چې په افغانستان کې دې واك دمجاهدینو پرځای طالبانوته وسپارل شي اوبیادې دمجاهدینو پرځای هغوي دخپلې خوښې اوپوهې سره سم اسلامي نظام قایم کړي، هغوی به په دې هم پوه شوي وي چې ملاتړیې ددې له پاره نه کیده چې په افغانستان کې دې جګړه پای ته ورسیږي، بلکې ددې له پاره پرشاتپول کیدل اوکیږي، چې دجګړې اورترهغې سړیدوته پرې نږدي، ترڅو چې داستعمار اهدافو ته لاره هواره شوې نه وي.

دپورته حالاتوپه نظرکې نیولو سره طالبان پرته له دې بله چاره نه لري چې په افغانستان کې دملا، عالم، طالب، مجاهد، اواسلامي نظام دغوښتونکیو قوتونو دبقا په خاطر له جهادي تنظیمونو سره دروغې جوړې لاره خپله کړي اودبین الافغاني ډیالوګ له لارې افغان مسئلې ته دحل لاره ومومي اوکه نه لکه څنګه چې خپلمنځي جنګونو جهادي تنظیمونوله صحنې وه ایستل، کیدای شي دطالبانو انجام ترهغوی بدتروي اوهغه په دې خاطرچې دطالبانو پرخلاف راپورته کیدونکي قوت به دټولو اسلامپالو قوتونو پرخلاف بې رحمانه عمل کوي.

طنز

## تماشه

لیکوال: ناآشنا

وایي چې یووخت یو شادي وان، شادي ګډوله اوله دغې لارې یې خپله روزي پیداکوله، دهمدغه کار په جریان کې یوه ورځ په یوملنګ ورپیښ شو. ملنګ ته یې وویل چې ملنګه وروره! ته کېنه چې یوه «تماشه» دروښیم. ملنګ کیناست اوشادیوان ورته ښایسته ډیره شادي وګډوله اوبیایې ملنګ ته وویل: څنګه وه، تماشه دې خوښه شوه کنه! ملنګ ورته وخندل اوویې ویل: هو! ښه وه، بده نه وه، راځه اوس به زه هم یوه تماشه دروښیم، کیدای شي خوښه دې شي. ملنګ، شادیوان ته وویل چې سترګې دې پټې کړه اولاس دې ماته په لاس کې راکړه. شادیوان همداسې وکړل.

شادیوان چې څنګه لاس دملنګ په لاس کې ورکړ اوسترګې یې پټې کړې، څه ګوري چې په یوه بله دنیا کې ګرځي، یوبل ملك دی، یوه بله پاچاهي ده. شادیوان چې هرې خواته ګوري ګلونه، باغونه اوښکلاوې دي. له ډیرې خوشحالۍ په ځان نه پوهیږي، روان دی اوهرقدم یې له خوشحالیو ډك دی، شادیوان په تلو، تلوکې یوځای ته ورسید چې ښه ډیر خلك راغونډشویدي، ده هم سوداشوه اوورغی، له چاپې پوښتنه وکړه چې څه چل دی، ورته یې ویل چې دپخواني پاچا دپاچایي وخت پوره شوی، اوس خلك راټول شوي ترڅوبل پاچاوټاکي.

دشادیوان سوداتوره هم زیاته شوه اوددغومراسمو کتلولپاره ورودید، دخلکوله ولې نه یوتن یو «باز» هواته خوشي کړ. خلکو لاسونه وپړکول اوشورماشورېې جوړکړ، هرچاداهیله درلوده اوپه زړه کې یې دعاکوله چې کاشکي باز راشي اوزماپراوږه کښیني، ترڅوزه پاچاشم.

بازښه ډیره هوا کې اوچت شو، دومره پورته والوت چې ایله معلومیده، په هواکې یې څرخله دخلکوڅار چاپیره پروازونه وکړل اوبیا لکه دډزیك دمرمۍ غوندې تیزه د خلکو په لور راخوشي شو اوستقیما راغی دشادیوان په اوږه کیناست. دخلکوغالمغال غلی شواوټولوپه تعجب سره شادیوان ته کتل، شادیوان هم حیران ؤ چې سرپه داڅه ټوکه ده، لکه چې بازغلط کړی یم، هسې نه چې داپاچاهي په کومه بلاواړوي.

دخلکومشرغږکړچې اوه خلکوا منۍ یې؟ ډیروخلکوناری کړې چې نه، نه یې منو، کیدای شي بازغلط شوی وي.

دخلکومشرراغی، بازیې دشادیوان له اوږې اوچت کړ او بیایې هواته والوزاوه. شادیوان اوږده ساه وویستله اوشکریې وویست چې خدای (ج) له جنجاله خلاص کړ. باز بیا ښه پورته هواته اوچت شو او په هواکې یې ښایسته ډیرپروازونه وکړل. دخلکوهم بیاښه غالمغال جوړ شو، ټولو پورته آسمان ته سترګې نیولي وې اولحظه په لحظه یې دبازڅارنه کوله. دټولوزړونه دربیدل اوپاچاهي په خیال کې یې طاقت نه کیده.

بازبیا رابنکاره شو، خلکو چیغې کړې: هغه دی! راغی! راغی! اوله دې سره بازبیا لکه دمرمۍ په شان دخلکو په لوربښکته راخوشي شو اونیغ دشادیوان په لور راغی اوپه اوږه یې کیناست. غالمغال آرامه شواو خلك بیا ټول شادیوان ته په تعجب کې پاتې شول. دشادیوان هم بیازړه و دربید او ویره پرې راغله، دغونډې مشربیا آوازوکړ چې منۍ یې؟ څه خلکو بیا وویل چې نه! نه یې منو، کیدای شي بازبیا خطاوتلی وي.

مشربیاراغی او بازئې دشادیوان له اوږې رااوچت کړ او په هوا کې یې خوشې کړ. بازبیا ښه پورته هواته اوچت شو اوله نظره ورك شو، خلکویوخوابل خواپسې کتل، چې څه وخت وروسته باز راڅرګند شو او خلکو شورماشورجوړکړ چې هغه دی راغی. باز بیا لکه دمخکې غوندې نیغ دشادیوان پلور راغی او په اوږه یې کیناست. دخلکوغالمغال غلی شو، دغونډې مشرپلوړځای ته وخوت اوخلکوته یې وویل چې داخوبې دریم ځل ؤ، اوس یې منۍ که نه؟ ټولو خلکو په یوه غږوویل: هو! منو یې، منو یې!

دخلکومشرراغی اوشادیوان یې له لاسه ونیو او هماغه لوړځای ته یې وخیژاوه. خلکوته یې مخامخ ودراوه اوخلکوته یې وویل: اوه خلکو! دغه ستاسو پاچا دی، پرمونږ اوتاسوفرض دی چې دده له هر امرنه په اطاعت کوو. ټولو خلکوپه یوه غږوویل: بیخي سمې ده، زمونږ قبول دی، مونږ به یې هرامر په سترګو منو. بیاټولو په یوه غږ شادیوان ته دپاچاکیدو مبارکي ووېله.

دغونډې مشر شادیوان له لاسه ونیو او د پاچاهي دماڼۍ په لوری یې وخوځاوه. پاچا «شادیوان» مخکې اوخلك وروسته روان شول ډولونه اونغارې وهل پیل شول. دپاچاترماڼۍ پورې ډولونه اونغارې وهل کیدې اوخلکو خوشحالي کوله. بیا دخلکو مشرپاچا «شادیوان» دپاچایي تخت ته وخیژاوه او دپاچایي تاج یې په سرورکیښود.

ټولوخلکو لاسونه وپړکول اومبارکي یې ورکړي، نوي پاچا «شادیوان» هم دخلکوله احساساتو نه منته وکړه اوخلکوته یې دخدمت او انصاف وعده ورکړه اوخلك یې رخصت کړل.

ټول خلك دخپلو کورونوپه خوا وخوځیدل او پاچا «شادیوان» هم له تخته راکوزشو اودحرم سرای په لورروان شو.

ددرباروټول وزیران یې څوکوراندې اوڅوك وروسته پسې روان شول، په هرقدم کې ورته لاس په نامه نوکران اومینځې ولاړې وې. پاچا «شادیوان» ددغو وزیرانو او درباریانو په بدرګه حرم سرای ته ورسید اوپه یوه تخت باندې دکیناستواوآرام بلنه ورکړل شوه.

پاچاه «شادیوان» په خورا نازاونزاکت تخت ته اوچت شو او کیناست، له کیناستو سره سم مینځې راغلې اودپاچا «شادیوان» دوجړوپه کیناکودلو یې پیل وکړ اوځینو ورته پکه وهله. په لږوخت کې رنګارنګ میوې اوخواږه تیاراومخې ته یې کیښودلي شول.

پاچاه «شادیوان» چې دادبدبه اوعزت ولیده، نوډخپلې ماضي په خیال کې لاړ اوهغه وختونه یې یو، یو سترګوته راغلل، هغه چې ټوله ورځ به یې دیوې مړۍ دوډۍ د پیدا کولولپاره خلکوته شادي ګډوله اودهرچامسخرې به یې زغملې. پاچا هغه ذلت اودغه عزت سره مقایسه کاوه او په چورتونو کې غرق ؤ. په همدې کې یې سترګې پټې کړې ترڅو پخواني ترخه وختونه نه رایادکړي.

له څه وخت سترګوپټولو وروسته پاچا «شادیوان» سترګې خلاصې کړې اوچې وینې کتل هماغه ځای دی او هماغه ملنګ او هماغه شادي یې مخې ته ناسته ده. یو سوړاسویلی یې وویست اوملنګ ته یې وویل چې ملنګه دادې څه وکړه! ملنګ په پریټوکي ورته مسك شو اوورته ویې ویل: هیڅ مې نه دي کړي یوه تماشه تاراوښودله اویوه تماشه هم ما دروښودله!!

## افغانستان؛ عرصه جدید رویارویی اروپا وامریکا

اتحادیه اروپا، ده روز پس از تصرف کابل پایتخت افغانستان ازسوی طالبان خواهان خودداری مجامع جهانی ازبه رسمیت شناختن طالبان شده است.

کمیسیون حقوق بشر اروپا درشرایطی این تصمیم رااتخاذ کرده است که طالبان به گفته بی نظیربوتو، باحمایت امریکائیها و دیگرکشور های ذی نفع رویکارآمده اند.

درنخستین روزهاي اشغال کابل ازسوي طالبان، ایالات متحده امریکاباپك موضع گیري مثبت خواهان تشکیل هرچه سریعتردولت موقت این گروه شد.

دولتمردان واشنگتن حتی باوجود نقض گسترده وبدیهی ترین اصول حقوق بشر ازسوی این گروه، بویژه درمورد زنان، به رسمیت شناختن این گروه را رد نکرده اند.

رئیس کمیسیون حقوق بشر اروپا ازجامعه بین المللي خواسته است که به دلیل نقض حقوق بشر ازسوي طالبان این گروه رابه رسمیت نشناسد.

سازمان عفو بین المللي نیز بااشاره به برجرد آمدن موجی از ترور ووحشت درافغانستان اعلام کرده است که دراین مدت کوتاه بیش ازیکهزارنفر دراین کشوردستگیر وروانه زندان شده اند.

درهمین راستا «بنیتا فرروولدنر» قائم مقام وزارت خارجه اتریش کشورهاي جهان رابه موضع گیري دربرابرقدرت یافتن شبه نظامیان طالبان درافغانستان دعوت کرده است. وي در بیانیه اي، پایمال کردن حقوق زنان ازسوي طالبان را بیرحمانه توصیف کرده است. او همچنین بااشاره به ماهیت حمایت گرایانه قوانین شریعت اسلامی نسبت به زنان، اقدامات طالبان رانسبت به این قشر تعبیر وتفسیر غیرواقعي دانسته است.

علاوه براین، مطالب مطبوعات اروپا نیز حکایت ازآن دارد که افکار عمومي اروپا ازاقدامات طالبان متاثرشده است. بیشتر مطبوعات اروپا بادرج اخبار مربوط به افغانستان ازرفتار غیرانساني طالبان درمورد زنان سخن گفته اند.

نماینده مجلس آلمان ومعاون پارلمان سازمان امنیت و همکاري اروپا نیز دریك مصاحبه مطبوعاتي، طالبان راگروهي تحریك کننده وسنتي بسیارافراطي توصیف کرده است. ویلي ویزباشاره به تاسیس کارتل بزرگ مواد مخدر ازسوي طالبان، این گروه راخطربزرگي براي اروپا دانسته است.

ناظران بین المللي درهمین ارتباط معتقدند دولتمردان اروپایي که بانگراني وقایع اخیر افغانستان رادنبال مي کنند، حامیان این گروه رامقصر تلقي کرده اند.

نماینده پارلمان اروپا درهمین رابطه بااشاره به فعالیت گسترده طالبان درگسترش بازارمواد مخدر به کشورهاي آسیاي مرکزي وتاجیکستان مي گوید، عربستان سعودي وامریکا باید در این مورد توضیح دهند.

... وي یاد آوري شد، ومانباید خطري رابدست خود سازماندهي کرده ویاصرف هزینه سنگین درصدد سرکوبي آن برآییم.

کارشناسان مي گویند قسمت اعظم تولید مواد مخدر طي سال گذشته دربخش تحت تصرف طالبان بوده است.

آنان درآمد افغانستان راطي همین مدت ازمحل صدور مواد مخدر به اروپا وسایرکشورها، حدود ۷۵ میلیارد دالر برآورد

بقیه درستون ۵ صفحه ٤

# جوانا! ره طاعت امروزگیر

## آستانه

### اسلام باید در گفتار وکردار مسلمان ظاهر شود

هدف از زندگی یك مسلمان اینست که او باید از زیر بار ماده وماده پرستی که پستی آفرین وحقارت زا است بیرون شود وبازنده کردن نیروی درونی خود وباالهام از تصامیم اسلام راه زندگی خجسته ونیکورا درپیش گیرد ، آن زندگی رابطلبد که واقعاً درآن حیات است ، تعاون همبستگی ، عزت ، سربلندی ، آزادگی ، علوطبع ، بلند همتی وارج گیری ازعناصر اصلی آنست .

اسلام باید درگفتار و رفتار مسلمان ظاهر باشد ودر زندگی شخصی واجتماعی او جاداشته باشد .

کوشش مسلمان متوجه این مسأله باشد که هرچه انحراف ، ناانسانی ،سقوط و تباهی است با آن مبارزه بعمل آید.

ظلم وتجاوز ازمیان برود وتکیه به استقرار عدالت اجتماعی و اجرای فضایل انسانی گردد .

مسلمان باید ترس ووحشت را در انجام وظایفش ازمحیط حیات خود دور سازد. وگمان نکند که پذیرش فلسفه اسلامی وعمل به اسلام موجب محرومیت و فقر می گردد زیرا مسلمانان فقیر اند ! اتفاقاً هم سویی به اسلام وعمل به قوانین اسلامی محرومیت وتنگی را از میان برده عزت ، شرافت وعظمت می آورد . که تاریخ شاهد آنست دراین دورکه مسلمانان به بلاومصیبت فقر مواجه اند علتش انحراف از خط اسلام است نه اینکه اسلام آنها را فقیر ساخته باشد. مسلمانان راست که مجسمه یی از اسلام باشند خلق و خوی شان قرآن باشد ، در عمل به پیامبر (ص) تاسی کنند.

الگو ونمونه یا شند تا از طریق تك تك شان جامعه نمونه اسلامی ساخته شود، مسلمانان نیاز مند آنند که جامعه یی داشته باشند که در تمام جنبه ها یعنی سیاست ، اقتصاد ، تعلیم وتربیه ، طب وغیره متکی بخود باشند . در عرصه نظامی قادر به مقابله با نیروی خصم بوده ، هیبت آفرین باشد.

بلی ، برآوردن چنان آرزویی نیاز به توانایی خاص دارد . که البته آن توانایی هم درنفس جامعه وافراد مربوط به آنست که در سایه خواستن وطلب کردن حاصل خواهد شد . اصولاً خواستن وطلب کردن خود نیروزا وقدرت انگیز است به شرطیکه با اصرار وازصمیم قلب باشد ؛ خواستنی باشد که دل بخاطر ش برزند ، زبان گویای آن باشد واعضای دیگر همگام با آن دو درمسیر حصول به هدف بکار گرفته شود نه خواستنی اینکه اطفال به آن خو کرده اند.

به اینترتیب خراسته ها بر آورده، وامید ها تحقق می یابد ودر غیر آن به انتظار خواری باید بود.

## دانش تجربی

### درمان فشار خون باتفکر درباره عالم غیر مادی

براساس تحقیق جدید انجمن قلب امریکا ، مکاشفه وتمرکز فکر در باره ماورا، الطبیعه وعالم غیرمادی بیش از دیگر روشهای آرامش عضلانی وتغییر سبك زندگی درکاهش فشار خون مؤثر است .

تحقیق در مورد " ازدیاد فشار خون " که به مدت سه ماه بر روی یازده نفر ۵۵ تا ۸۵ ساله امریکایی افریقایی تبار انجام شد نشان داد روش مکاشفه در عالم غیر مادی ،فشار خون را به میزان قابل توجهی کاهش می دهد.

شرکت کنندگان دراین تحقیق به سه گروه تقسیم شدند یك گروه روش تفکر درعالم غیر مادی را بر گزیدند ، گروه دوم روش آرامش وانبساط عضلات را امتحان کردند وگروه سوم به اصلاح وتغییر سبك زندگی خود مبادرت ورزیدند.

کاهش فشار خون باروش تمرکز فکر هم در زنان وهم درمردان ظاهراً دوبرابر آرامش تدریجی عضلات مؤثر است . دراین تحقیق بین روش تفکر واصلاح سبك زندگی همین ارتباط مشاهده شد.

## بحث سیاسی

### حکومت اصولی و آیده ال

قرآن وسنت معین کننده نشانه های راه حیات اند ودرآینه آن ها هرنیکی وبدی بصورت آشکار علامت گذاری شده است از آنجا که قرآن عظیم الشان خطاب به پیامبر (ص) میفرماید : " ای پیامبر ! بگو جز این نیست که حرام کرده است پروردگارمن بی حیایی ها را آنچه علانیه چیزی را که خدا هیچ دلیل برآن نازل نه کرده است رآنکه بگویید برخدا آنچه که نمیدانید . الاعراف : ۳۳ )

به همین ترتیب خدا (ج) درمحل دیگری میفرماید : " مسلماً ، حکم از آن خداست . فرمان میدهد که سوای او(ج) به کسی بندگی نه کنید " (یوسف : ۴۰)

کسانیکه از ادای فرایض اسلامی سرپیچی می کنند صفت طاغوت را دارند زیرا خواص طاغی است که بجای خدا(ج) خود را قرار میدهد وبجای اینکه حاکمیت خالق خود را بپذیرد درتلاش تحکیم سلطه خود بر مردم می افتد وبیشتر به قیادت وسیادت خانوادگی ونفوذ شخصی تکیه می کند واگربه نحوی منافع شخصی ویا خانوادگی اش به خطر مواجه شود به قوانین دینی عزت وحرمتی قایل نمی شود وبه آن سرانقیاد نمی گذارد ، دراین رابطه قرآن کریم میفرماید.

" پس قسم به پروردگارت : که ایشان مسلمان نباشند تا آنکه حاکم کنند ترا در اختلافی که واقع شده میان ایشان ، بازنیابند دردل خویش تنگی از آنچه حکم فرمودی وقبول کنند با تسلیمی (رضا) . ( النساء : ۶۵)

خلفای راشدین که به نیابت از پیامبر (ص) پرداخته اند کاملاً سرتسلیم به فرامین فوق داشته ، اندکی از انجام فرایض شرعی خویش غافل نبودند ، پیروان مخلص اسلام هم در هرحالتی که باشند خود را به حکم وفرمان خدا تسلیم می دانند ودر امور اختلافی

بقیه درصفحه ۲ ، صفحه ۴

# دین جوانان

## مشعل راه

### اسلام دین فطرت است

عنوان فوق درسوره الروم تحت آیه ۳۰ مشخص شده و بیان شده است . پس راست کن روی خود را بجانب دین حنیف پیروی کن دین خدا را که پیدا کرده مردمان را بروی (فطرت خدا ) وحقیقت آنست که تبدیل نه می شود آنچه را که خدا پیدا کرده ، این است دین درست لیکن بسیاری ازمردم نمیدانند.

دراین آیه حنیف ، فطرت ودین بکار برده شده است که هرسه آنها قابل غور است .

حنیف صفت است ومشتق ازحنف میباشد ومعنی آن ترك راه کج ورفتن به راه راست وصحیح است ، ورد باطل وقبول حق میباشد ودرمقابل حنیف لفظ زیغ بکار برده می شود که کجی راگفته وشرحش ترك را ، راست و حرکت در راه کج میباشد.

اما لفظ فطرت که گفته می شود خلق انسان از روی فطرت است وبنابرآن باید انسان تابع دین فطرت باشد . فطرت عبارت ازسرشت اصلی انسان است از همه آلودگی ها پاك وتمیز بوده واز نیروی قوی یی سرچشمه گرفته است که از یکطرف خواهشات نفسانی رادر بردارد وازطرف دیگر صفات روحانی وملکوتی در اوموج میزند.

مثال فطرت چون ماده یی پاکیزه یی است که اگر به آن مواد خوب علاوه شود داورمی شود واگر مواد زهری بدان علاوه شود چون زهر هلاهل مهلك وکشنده می گردد .اگر انسان تحت تعلیمات نیکو به تربیت فطرت خویش بپردازد ازمقام ملائك وفرشته ها بالا می رود واگر تحت تعلیمات گندیده باطل قرار گیرد باانجام اعمال وافعال ناشایست خویش ازشیطان هم بدتر می شود که حتی شیطان را از انجام آن اعمال شرم می آید .

فطرت وسرشت انسان معترف به وجود خداست .

